# دوی د هېڅ اوښ په غاړه کې غاړک یا ګونګرو پرته له پرې کولو پرې نږدي

له ابو بشير الانصاري رضی الله عنه څخه روايت دی: چې هغه په ځينو سفرونو کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره و، هغه ويلي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم يو استازی پداسې حال کې وليږه چې خلک په خپلو استوګن ځايونو کې وو تر څو: «لَا يَبْقَيَنَّ فِي رَقَبَةِ بَعِيرٍ قِلَادَةٌ مِنْ وَتَرٍ أَوْ قِلَادَةٌ إِلَّا قُطِعَتْ». " دوی د هېڅ اوښ په غاړه کې غاړک یا ګونګرو پرته له پرې کولو پرې نږدي".

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم په ځينو سفرونو کې و، او خلک په خپلو کېږديو او خېمو کې وو چې شپه به يې پکې تېروله، نو خلکو ته يې يو کس ورولېږه او امر يې ورته وکړ چې د اوښانو په غاړو کې ځوړندې غاړک پرې کړي، هغه که د لړګي دوه ښاښ وي - يا بل څه وي لکه: ګونګرو او يا څپل- ځکه چې دوی دا شيان د ځارويو په غاړو کې له بد نظر څخه د ساتلو په موخه ځوړندول، نو دوی ته يې د پرې کولو امر وشو؛ ځکه چې دا له هغوی څخه هېڅ شی نشي منع کولی، او دا چې ګټه او تاوان يوازې د الله په لاس کې دي، هغه ذات چې شريک نه لري.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6761

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee